د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**ګڼه: 409**

(27 غبرګولی – 02 سرطان 1402 هـ ش)

## د اسلامي امارت پروړاندې د هند بهرني سياست ته کتنه

---



**دا نشریه د افغانستان او سیمې د مهمو سیاسي، امنیتي، اقتصادي او ټولنیزو پېښو د تحلیل اوونیزه خپرونه ده چې د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز له لوري په پښتو، دري، انګلیسي او عربي ژبو چمتو کېږي او خپرېږي.**

## په دې ګڼه کې لولئ:


- د اسلامي امارت پر وړاندې د هند بهرني سیاست ته کتنه ........................................3
- سریزه ......................................................................................3
- د افغان-هند اړیکو مخینه ......................................................................3
- د اسلامي امارت په اړه د هند پالیسي (له ۲۰۲۱م وړاندې)........................................4
- د اسلامي امارت له واکمنېدو وروسته د هند پالیسي ..........................................6
- پایله ......................................................................................7
- وړاندیزونه ..................................................................................8
- مأخذونه:..................................................................................9


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## د اسلامي امارت پروړاندې د هند بهرني سیاست ته کتنه

### سریزه

هند هغه هېواد دی چې له افغانستان سره ګډه پوله نه لري؛ خو له افغانستان سره یې له څو اړخونو تړاو موجود دی او تل یې هڅه کړې چې د افغانستان په مسایلو کې دخیل وي او همدا لامل دی چې په بېلابېلو دورو کې یې د دغه هېواد لپاره ځانګړې بهرنۍ پالیسي لرلې ده .

که په عمومي ډول د هند او افغانستان اړیکو ته وګورو، نو د شوروي اتحاد له یرغل راهیسې د جمهوریت (۲۰۰۱-۲۰۲۱) تر واکمنۍ پورې د دواړو هېوادونو اړیکې ښې نه وې، خو د جمهوریت په شل کلنه دوره کې بیا د هند او افغانستان اړیکې سره نږدې شوې .

د طالبانو او امریکا متحده ایالاتو ترمنځ د دوحې له تړون راوروسته، هغه مهال چې طالبان په ټول افغانستان حاکم شوي نه وو، خو د افغانستان اکثره سیمې یې تر ولکې لاندې وې، نو د طالبانو له دې چټک پرمختګ څخه هند ته وېره پیدا شوه او له طالبانو سره یې په نارسمي ډول د خبرو او ناستې پرېکړه وکړه. هند په دې فکر و چې که طالبان په ټول افغانستان واکمنېږي، نو په افغانستان کې له هند سره باید د خپلو ملي ګټو د خوندي کولو لپاره یو الټرنېټ (بدیل) موجود وي .

کله چې طالبان په ټول افغانستان واکمن شول او د اسلامي امارت سرپرست حکومت واکمن شو، هند په لومړیو کې له ډېر احتیاط څخه کار واخیست او وروسته یې د بشري مرستو ډیپلوماسي پرمخ کړه او په دې توګه یې له اسلامي امارت سره څه نا څه تعامل پیل کړ.

د هند او افغانستان د اړیکو تاریخي مسیر او اهمیت ته په کتلو، په دې لیکنه کې د افغانستان او هند ترمنځ د اړیکو مخینې ته د اشارې ترڅنګ، له اسلامي امارت سره د هند د اړیکو تېر مزل، شته بې باوریو او د اړیکو اوسني وضعیت ته کتنه کوو.

### د افغان-هند اړیکو مخینه

له تاریخي اړخه هند له بریتانیا څخه له خپلواکۍ اخیستلو وروسته په لومړي ځل په ۱۹۵۰ز. کال کې له افغانستان سره د سیاسي اړیکو د ټینګولو په موخه له دغه هېواد سره د «ملګرتیا تړون» لاسلیک کړ. پر افغانستان د شوروي اتحاد د یرغل پرمهال هند د شوروي اتحاد ملاتړ وکړ او د افغان مجاهدینو پرخلاف یې د شوروي اړخ ونیوه .

له ۱۹۹٦ز.کال څخه تر ۲۰۰۱ز.کال پورې، چې په افغانستان کې د طالبانو واکمني وه، هند خپلې هر ډول ډیپلوماتیکې اړیکې او ملاتړ له افغانستان سره په دې دلیل پرې کړې چې طالبان یې په پاکستان کې روزل شوې ډله ګڼله او په دې عقیده وو چې پاکستان غواړي په کشمیر کې د جنګېدونکو ډلو لپاره په افغانستان



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

کې د طالبانو تر واکمنۍ لاندې پېښځايونه برابر کړي. له همدې کبله يې په دې دوره کې له شمال ټلوالې سره همکاري کوله .

کله چې په ۲۰۰۱ز.کال کې د طالبانو واکمني ړنګه شوه هند بېرته په عاجل ډول له افغانستان سره اړيکې ټينګې کړې؛ لومړی يې په کابل کې خپل سفارت پرانيست او ورپسې يې په مزارشريف، جلال اباد، هرات او کندهار کې کونسلګرۍ پرانېستې او له افغانستان سره يې ډيپلوماتيکې اړيکې يو ځل بيا ټينګې کړې. [i]
همدارنګه په ۲۰۱۱ز. کال کې هم هند او د افغانستان اسلامي جمهوري دولت ترمنځ «د ستراتيژيک شراکت هوکړه‌ليک» لاسليک شو چې له لارې به يې دواړه هېوادونه په سياسي، اقتصادي، فرهنګي، تعليمي او نورو بېلابېلو برخو کې له يو او بل سره همکاري کوي[ii].

### د اسلامي امارت په اړه د هند پاليسي (له ۲۰۲۱م وړاندې)

د اسلامي امارت له بیاځلي واکمنۍ مخکې هند، طالبان د یوې داسې ډلې په حېث پېژندل چې د پاکستان له خوا تمويلېږي. په دې اړه هندی ليکوال سيري پتي ناراينن وايي: «د پاکستان له رامنځته کېدو وروسته له ۱۹۴۷ ز.کال څخه تر ۱۹۹۲ز.کال پورې په افغانستان کې د پاکستان په پرتله د هند نفوذ ډېر و. د همدې نفوذ د له منځه وړلو او د افغانستان په مسايلو کې د خپل رول د پراختيا په موخه پاکستان د يوې لارې په لټه کې و، چې بالاخره يې د طالبانو په شکل کې دغه لاره پيدا کړه. د مجاهدينو خپلمنځي اختلافات د دې لامل شول چې پاکستان په افغانستان کې د طالبانو اسلامي امارت ته زمينه برابره کړي. هماغه وو چې د طالبانو اسلامي امارت په راتګ سره هند هم له افغانستان څخه پښې سپکې کړې او هر ډول اړيکې يې له افغانستان سره ختمې کړې او طالبان يې د يوې تروريستي ډلې په حېث اعلان کړل.[iii]

د طالبانو په اړه د هند پاليسي هغه وخت لا سخت دريځه شوه، چې کله په ۱۹۹۹ز.کال کې د انډين ايرلاينز ۸۱۴ شمېره پرواز مسافر وړونکې الوتکه يرغمل شوه او کندهار ته يوړل شوه. د دغې يرغمل شوې الوتکې او هنديانو په بدل کې د هند له حکومت څخه د ځينو اشخاصو د خلاصون غوښتنه وشوه، چې بيا هند هم درې تنه د دغو يرغملو په بدل کې خوشې کړل. د دغو دريو کسانو له ډلې څخه دوه تنه يې پاکستانيان او هغه کسان وو چې په کشمېر کې يې د پاکستان په ګټه او د هند پر خلاف جګړه کوله. يو يې مسعود اظهر و چې د جيش محمد ډلې بنسټګر دی او بل يې احمد عمر سيد شيخ و چې وروسته يې بيا يو امريکايي ژورنالست ډانيال پيرل وتښتاوه او بيا يې وواژه.[iv]

هند په دې باور و، چې طالبان يوه داسې ډله ده چې په افغانستان کې د پاکستان نيابتي جګړه پرمخ بيايي او په دغه هېواد کې د هند اهداف په نښه کوي او د دې لپاره بېلګې هم وړاندې کوي: په ۲۰۰۸ز.کال د جولای میاشتې پر ۷مه نېټه په افغانستان کې د هند پر سفارت موټر بم چاودنه وشوه. په دغه چاودنه کې بريګيډر مېحتا (Brigadier Mehta) چې په کشمېر کې د پاڅونوالو پر خلاف په عملياتو کې يې تجربه


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

درلوده او هغه مهال یې په افغانستان کې د افغان ځواکونو د روزنې په برخه کې له افغان حکومت سره مرسته کوله، ووژل شو او د دې چاودنې اصلي موخه همدی و.[v] همدارنګه په ۲۰۰۹ ز.کال د اکتوبر میاشتې پر ۸مه نېټه په افغانستان کې د هند پر سفارت بیا برید وشو چې په پایله کې یې ۱۷ کسان ووژل شول او ٦۳ نور ټپیان شول. د ۲۰۱۰ز.کال د فبروری میاشتې پر ۲٦مه نېټه په کابل کې پر یوه هوټل (Guesthouse) چې تر ډېره هندي ډاکټران او انجینران پکې اوسېدل، برید وشو او په پایله کې یې ۳٦ کسان ټپیان شول چې له ډلې یې ۱۸ کسان هندیان وو.[vi]

له اسلامي امارت سره د اړیکو په برخه کې یو بحث هم د هند د تروریزم د نه تحمل پالیسي (The Policy of Zero Tolerance Towards Terrorism)ده، چې دوې برخې لري :

**لومړی: ډیپلوماتیکي حملې (Diplomatic Offensive):** د تروریزم د نه تحمل پالیسۍ لومړۍ برخه دا ده چې په تروریستانو ډیپلوماتیکې حملې وشي؛ یعنې له یوې خوا د تروریستانو نومونه افشاء شي او له بلې خوا یې تمویلوونکي مراجع او هېوادونه افشاء شي. په دې اړه هند مشهوره اصطلاح لري چې وایي (Name and Shame)یعنې د نومونو د افشاء له لارې تروریستان وشرموي، همدارنګه په دې برخه کې د تروروستانو په مقابل کې سفارتي اقدامات هم شامل دي .

**دویم: د ځواک استعمال (Use of Hard Power):** که چیرې له ډیپلوماتیکو لارو تروریزم کنټرول نه شي، نو بیا هند پالیسي دا ده چې په هغوی حملې کوي، پرته له دې چې دا وکتل شي چې تروریستان په کوم هېواد کې دي؛ یعنې که تروریستان په هر هېواد کې وي او هند ته یې خطر متوجې کړی وي، هند په همغه هېواد کې پر هغوی حملې کوي. د بېلګې په ډول: د ۲۰۱۵ز. کال د جون پر ۴مه د میانمار یوې تروریستې ډلې (The National Socialist Council of Nagaland) یا (NSCN) په هندي عسکرو حمله وکړه او بېرته میانمار ته وتښتېدل، چې څو ورځې وروسته هند د میانمار په داخل کې پر هغوی هوایي بریدونه وکړل. همدارنګه د ۲۰۱٦ز. کال د سپتمبر پر ۲۸ او ۲۹مه د پاکستان پر خلاف سرجیکل سټرایک یا حمله، چې پکې یې د پاکستان تر ولکې لاندې کشمیر باندې هوایي حملې وکړې او د پاکستان خاورې ته ننوتلي وو. همدارنګه د ۲۰۱۹ز. کال په فبروری میاشت کې د پاکستان په بالاکوټ سیمه باندې د هند هوایي حمله د یادولو وړ ده. دا هغه بېلګې دي چې هند یې د خپلې پالیسۍ برخه ګڼې او وایي چې تروریستان به هېڅکله پرېنږدي.[vii]

که څه هم د تروریزم په اړه هېڅ منل شوی نړیوال تعریف نشته او هر هېواد خپلو دښمنانو او مخالفینو ته د تروریستانو اصطلاح کاروي؛ خو په ټوله کې له پورتني بحث څخه موخه دا ده چې د اسلامي امارت له واکمنۍ مخکې هند د طالبانو پرخلاف هم د تروریزم د نه تحمل پالیسي لرله او همدا لامل دی، چې د سیمې د نورو هېوادونو لکه روسیې، پاکستان، چین، ترکمنستان، قزاقستان، ازبکستان، ایران او نورو هېوادونو په پرتله له اسلامي امارت سره د هند اړیکې سړې دي. اوس چې د اسلامي امارت د واکمنۍ نږدې دوه کاله پوره کېږي،

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

هند د طالبانو په اړه ځینو حقایقو ته رسېدلی او په تدریجي ډول د اسلامي امارت په اړه خپله پالیسي بدلوي او غواړي چې له اسلامي امارت سره په تدریجي ډول د تعامل په لوري ولاړ شي، خو هند په دې برخه کې ډېر محتاطانه عمل کوي.

### د اسلامي امارت له واکمنېدو وروسته د هند پالیسي

د ۲۰۲۰ز. کال په سپتمبر په میاشت کې د هند د بهرنیو چارو وزیر جی شنکر د لومړي ځل لپاره په دوحه کې د افغان حکومت د مذاکراتي پلاوي او طالبانو ترمنځ ترسره کېدونکي غونډه کې د ویډیو لېنک له لارې برخه واخیسته.[viii] دا چاره د دې ښکارندویه وه، چې له طالبانو سره خبرې او تعامل د هند د ملي ګټو غوښتنه ده.

که څه هم اسلامي امارت په تېرو کابو دوو کلونو کې بار بار د هند په شمول ټولې نړۍ ته ډاډ ورکړی چې د افغانستان خاوره به د هېڅ هېواد پر ضد نه کارېږي او نه هم له هېڅ هېواد سره د خصمانه چلند پالیسي لري او د همدغه ډاډ پربنسټ د سیمې او نړۍ ګڼ هېوادونه له اسلامي امارت سره تعامل ته هم داخل شوي؛ خو هند بیا هم فعلاً د اسلامي امارت پر وړاندې د څار او انتظار پالیسي (Watch and Wait Policy) غوره کړې ده. د هند دې پالیسی ته ستراتیژیک صبر هم ویل کېږي، یعنې هند د اسلامي امارت پالیسي مطالعه کوي او کله یې هم چې د اسلامي امارت د پالیسیو په اړه ډاډ ترلاسه کړ له هغه وروسته به له اسلامي امارت سره په رسمي ډول اړیکې ټینګوي.

دا چې هند تراوسه له اسلامي امارت سره رسمي اړیکې نه لري او په ورته وخت کې له اسلامي امارت سره د تعامل اړتیا هم محسوسوي، نو په اوسني وخت کې د اسلامي امارت پر وړاندې له دوه ډوله ډیپلوماسۍ څخه کار اخلي چې یو یې د بشري مرستو ډیپلوماسي ده او بله سیمه‌ییزه ډیپلوماسي ده .

هند په ۲۰۲۱ز. کال کې له افغان ولس سره د ۵۰ زره میټریک ټنه غنمو، د همدغه کال په ډسمبر میاشت کې یې د اندراګاندي ماشومانو روغتون سره نږدې ۱،٦ ټنه درملو، د کرونا د مخنیوي په موخه یې پنځه میلیونه ډوزه د کرونا واکسینو او د پکتیکا زلزله ځپلو سره یې ۲۷ ټنه بېړنۍ مرسته وکړه، چې خیمې او کمپلۍ په‌کې شاملې وې. همدارنګه ویلای شو چې د اسلامي امارت پر وړاندې د هند د بشري مرستو ډیپلوماسي اغېزناکه ثابته شوې او دې کار اسلامي امارت دې ته مایل کړی ترڅو له هند سره د دوه اړخیزو اړیکو په جوړولو کار وکړي.

د ۲۰۲۲ز. کال په نیمایي کې هند په کابل کې خپل سفارت ته یو تخنیکي ټیم په دې موخه ولېږه چې د هند بشري مرستې له اسلامي امارت سره تنظیم کړي، خو دا تخنیکي ټیم ځینې وختونه د اسلامي امارت له مشرانو سره هم ګوري او دې کار د دواړه هېوادونو پر اړیکو مثبت اغېز کړی دی.

د اسلامي امارت پر وړاندې د هند بله نااعلان شوې پالیسي سیمه‌ییزه ډیپلوماسي ده، په دې معنا چې هند په یوازې ځان نه، بلکې غواړي د سیمې له هېوادونو سره په ګډه د اسلامي امارت سره تعامل ته ننوځي او یا هم دا چې په ګډه د اسلامي امارت په اړه خپل دریځ روښانه کړي. په دې اړه هند د اسلامي امارت په اړه په بېلابېلو سیمه‌ییزو غونډو کې هم ګډون کړی او خپل ګډ دریځ یې روښانه کړی دی. هند د ۲۰۲۱ز. کال د نومبر پر لسمه او یوولسمه د لومړي ځل لپاره د درېیم سیمه‌ییز امنیتي ډیالوګ کوربتوب وکړ چې په‌کې له پاکستان او چین پرته د سیمې او افغانستان د ګاونډیو هېوادونو لکه روسیې، قزاقستان، قرغیزستان، ازبکستان، تاجکستان، ترکمنستان او ایران د ملي امنیت سلاکارانو ګډون وکړ، هند د دې غونډې په مشرۍ سره خپل دریځ روښانه کړ او له نورو سیمه‌ییزو هېوادونو سره یې په ګډه اعلامیه خپره کړه. هند او د سیمې هېوادونو په دې اعلامیه کې په افغانستان کې د داسې ټولشموله نظام چې د افغاني ټولنې د ټولو اړخونو استازیتوب وکړي، په افغانستان کې د بشر حقوقو ته درناوی،له افغانستان څخه د تروریزم د ګواښ مخنیوی او دا چې د افغانستان خاوره به د نورو هېوادونو پرخلاف نه کارېږي، ټینګار وکړ. دغه راز هند د روسیې په کوربتوب د افغانستان په تړاو په پنځمه څو اړخیزه امنیتي غونډه چې د ۲۰۲۳ز. کال په فبروري میاشت کې په مسکو کې وشوه، ګډون وکړ. په دې غونډه کې د هند استازي وویل: هند د خوندي، باثباته او سوله‌ییز افغانستان غوښتونکی دی او د سیمې هېوادونه باید له افغانستان او سیمې څخه د راپورته کېدونکو تروریستي ډلو لکه داعش، القاعده او نورو پر وړاندې امنیتي او استخباراتي همکاري رامنځته کړي.[ix] همدرانګه هند د شانګهای سازمان غونډو کې هم د افغانستان په اړه څرګندونې کړې او هڅه یې کړې چې د سیمې له هېوادونو سره په ګډه د افغانستان په اړه ګډ دریځ غوره کړي. له دې معلومېږي چې هند د اسلامي امارت په اړه تر ډېره هڅه کوي چې سیمه‌ییزه پالیسي مخکې یوسي او په مستقیم ډول له اسلامي امارت سره د رسمي اړیکو ټینګولو یا تعامل کې له احتیاط څخه کار واخلي.

**پایله**

هند تل افغانستان ته د پاکستان له زاویې ګوري؛ کله هم چې په افغانستان کې د پاکستان نفوذ ډېر شوی او اړیکې یې له افغان دولتونو سره نږدې شوې په هماغه کچه هند له صحنې وتلی او اړیکې یې خرابې شوې دي. د بېلګې په ډول: د شوروي اتحاد د یرغل پرمهال کله چې پاکستان له افغان مجاهدینو ملاتړ کاوه، نو هند له شوروي اتحاد سره ودرېد او کله چې د اسلامي امارت په لومړۍ دوره کې پاکستان طالبان په رسمیت وپېژندل، هند په هماغه کچه په مکمل ډول اړیکې پرې کړې او بیا په جمهوریت کې کله چې د هند اړیکې له افغانستان سره نږدې شوې له پاکستان سره د افغان دولت اړیکې خرابې وې. په ټوله کې ویلی شو چې افغانستان اکثره وخت په یو ډول د هند او پاکستان د نیابتي جګړې ډګر ګرځېدلی او دواړو لورو هڅه کړې چې په افغان حکومت کې خپل نفوذ ډېر کړي او ان په دغه هېواد کې د یو بل ګټې په نښه کړي، کوم

څه چې له دواړو هېوادونو سره په اړیکو کې د توازن نشتوالي پایله ده او په هېڅ ډول د افغانستان په ګټه هم نه ده.

په دې توګه ویلی شو، چې د هند او اسلامي امارت د تعامل په مخینه کې دوستانه او باالعتماده اړیکې نه تر سترګو کېږي، بلکې برعکس دا اړیکې په شک او د هند له خوا د اسلامي امارت په مقابل کې د نورو اړخونو په ملاتړ ولاړې وې. همدغه د بې‌باورۍ مخینه د دې لامل شوې چې تراوسه هند په رسمي ډول په ډهلي کې افغان سفارت اسلامي امارت ته نه دی سپارلی او د نورو سیمه‌ییزو هېوادونو په پرتله یې اړیکې ورسره کمزورې او له بې‌باوریو ډکې دي.

هند دا مهال له اسلامي امارت سره د اړیکو په ټینګولو کې له احتیاط څخه کار اخلي. هند که له یوې خوا له سیمې څخه د امریکایانو له وتلو وروسته په افغانستان کې حاکم نظام سره اړیکو ټینګولو ته اړتیا لري خو له بلې خوا له طالبانو څخه له دې امله وېره لري چې د دوی په اند طالبان د پاکستان تر ملاتړ لاندې دي. ځکه نو هند تراوسه د اسلامي امارت پر وړاندې د څار او انتظار پالیسي (Watch and Wait Policy) غوره کړې او د مستقیم تعامل پر ځای د بشري مرستو او سیمه‌ییز سازمانونو له لارې د اسلامي امارت پر وړاندې خپله ډیپلوماسي پرمخ وړي.

**وړاندیزونه**

۱ -اسلامي امارت دې په هره ممکنه لاره هند ته دا ډاډ او قناعت ورکړي چې د دوی بهرنی سیاست په بشپړ ډول خپلواک او پر ملي او اسلامي ارزښتونو ولاړ دی او هېڅکله به د پاکستان له کړکۍ هند ته ونه ګوري.

۲ -اسلامي امارت دې لا ډېره هڅه وکړي ترڅو هند ته دا ډاډ ورکړي چې د افغانستان خاوره به د هند په مقابل کې نه استعمالېږي.

۳ -اسلامي امارت دې په خپل بهرني سیاست کې د هند او پاکستان ترمنځ توازن وساتي.

۴ -هند هم باید له اسلامي امارت سره د اړیکو د پاللو رسمي چوکاټ ته ننوځي او د نورو سیمه‌ییزو هېوادونو په څېر باید په ډهلي کې افغان سفارت ورته وسپاري ترڅو د دواړو هېوادونو په اړیکو کې شته شکونه له منځه ولاړ شي.

۵ -افغان محصلین د هند له لوري د ویزې د نه ورکړې له امله له ډېرو ستونزو سره لاس او ګرېوان دي، هند باید دې برخې ته پام وکړي او افغانانو ته د ویزو د ورکړې اسانتیاوې برابرې کړي.

٦ -د دې لپاره چې د دواړو هېوادونو ترمنځ سوداګریزې اړیکې د پخوا په څېر ټینګې شي، هند باید له یوې خوا افغان سوداګرو ته د ویزې د ورکړې او د تګ او راتګ اسانتیاوې برابرې کړي او له بلې خوا باید په دولتي کچه سوداګریزې اړیکې پراخې کړي.



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

**مأخذونه:**

i Raghav Sharma, India & Afghanistan: Charting the Future, Institute of Peace and Conflict Studies, 2009, P.1, Access Date: 28/DEC/2020, Available at: http://www.jstor.com/stable/resrep09279

ii معصوم جان معصومي، د اسلامي امارت بیا ځلي واک ته د رسېدو سره د افغانستان پر وړاندې د هند ډیپلوماتیک تعامل، سیمه ییز مطالعات ځانګړې مجله ۱۴۰۱ کال، ۲ مخ.

iii Sripathi Narayanan, Pakistan & Afghanistan: Understanding Islamabad's Policies and Strategies, Institute of Peace and Conflict Studies (IPCS) Special Report, 2010, P. 2, Access Date: 28/Dec/2020, Available at: http://www.jstor.com/stable/resrep09376.

iv Gareth Price and Chatham House, India's Policy towards Afghanistan, Chatham House, August 2013, P.1, Access Date: 28/DEC/2020, Available at: https://www.chathamhouse.org/sites/default/files/public/Research/Asia/0813pp_indiaafghanistan.pdf

v Raghav Sharma, India & Afghanistan: Charting the Future, Institute of Peace and Conflict Studies, 2009, P.1, Access Date: 28/DEC/2020, Available at: http://www.jstor.com/stable/resrep09279

vi Larry Hanauer and Peter Chalk, P. 29.

vii Sujan R.Chinoy, The Policy of Zero Tolerance Towards Terrorism, DEC 2020, P. 6-26, Dr. Syama Prasad Mookerjee Research Foundation, Access Date: 8/AUG/ 2021, Available at: Indias-Policy-of-Zero-Tolerance-Towards-Terrorism.pdf

viii Ibid.

ix معصوم جان معصومي، مخکنی مأخذ، ۹ مخ.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز نادولتي، غیر انتفاعي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ لمریز کال کې په کابل کې جوړ شوی. دغه مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو له لارې، په افغانستان او سیمه کې د پالیسیو د ارزونې او بډاینې لپاره فعالیت کوي.

**اړیکه:**

ایمیل: csrskabul@gmail.com info@csrskabul.com

وب سایت: www.csrskabul.net - www.csrskabul.com

شمېره: +93780618000 +93780618000

www.csrskabul.com info@csrskabul.com